# د زړونو لارې

کال2021

## د زړونو لارې

لومړی شعري ټولګه شاعر:

**مطیع الله ((عابد)) کاموال**



# د زړونو لارې

## بسم الله الرحمن الرحیم

**کتاب پیژندنه:**

**د کتاب نوم: د زړونو لارې!(شعري ټولګه)**

**شاعر: مطیع الله عابد کاموال**

**کمپوز: عابد کاموال**

**د لیک کال:۱۴۰۰/ لمریز/۲۰۲۱**

**پته: کامه /ننګرهار/افغانستان**

**فسبوک:Matiullah Abid Kamawal**

**واټساف: 0778230886/0789868619**

**ټول حقوق له شاعر سره خوندي دي.**


ډالۍ خپلې خوږې مورجانې او پلار جان ته!

# د زړونو لاړې

## غزل

کله چي ما وګوري حیرانه شي
ځان سره څه وواېي روانه شي

هسې مي په زړه ښه لګېدلي ده
کاشکي دا هندوه مسلمانه شي

اوس خو مونږ یو بل ته رسیدی نشو
هرڅومره که مینه موپریمانه شي

ځمکه کي خو ستا لایقه نه وینم
چرته که راکوزه له اسمانه شي

اوس ایله منزل ته رسیدلي یو
خدای مکه چې دامینه مو ورانه شي

څومره چي ساده وي او ساده ګرځي
دومره خدای قران راباندې ګرانه شي

چاچي په عابد زړګی بایللی دی
هاا جینۍ به څنګه پښیمانه شي



## غزل

ربه هله به راځي سوله وطن کې
چې مو څاڅکی وینه نه وي په بدن کې

ارمانونه مو ګیډۍ ګیډۍ راوړیو
روانیږو اوس دونیا نه یو کفن کې

ای انسانه فکرنه کوې دونیا ته
څنګه راغلې او اوس څنګه په رفتن کې

پښتنوشۍ په مثال دبلبلان
او د امن نارې ووهۍ ګلشن کې

زه عابد چې ستاسې درد ته دوآ نشم
څه معنی لري بیا سا زما په تن کې



## غزل

ما دهرچاسره ماتم کړی دی
ما که ژوند کړی ما په غم کړی دی

بغیر له تا زندګي نه کوومه
دامي له ځان سره قسم کړی دی

پرون دهغی نن ددغی نظام
ژوند مې حالاتو سره سم کړی دی

د دونیا فکر دقلم سره وو
مونږ د توپک کړی دبم کړی دی

که عابد زړه کې نفرتونه ساتي
خو محبت يې ګوره هم کړی دی

## غزل

ما د زړه په سر لیکلې یې نامه ده
مخبت خود ژوند لویه سرمایه ده

د خپل ژوند ترجماني پکې کوومه
دیار سترګې نه دي سمه ائینه ده

نور دحال پوښتنه مه کوئ یارانو
ژوند مې څه دی خو دعشق یوه ډرامه ده

هغې هم یواځې پریښی یمه تللې
چې مې خوښه دکوم چا په سر کامه ده

چا عابد ته د راتلو وعده ورکړې
ځکه لار کې یې وهلې یې خیمه ده

د زړونو لارې

## غزل

هروحتي خوماراو زه
ژوند مي ناکرار او زه



خوښ يمه بي حده ډير
کله چي وي ياراو زه

ستا په سر لانجي کوو
ګلي زما پلار او زه

سيند په کانو ولو مونږ
بس ستا انتظار او زه

زه لکه منصوريمه
ښه جوړيږو دار او زه

يو بل ته کاته کوو
ستا دراتلو لار او زه

هسي هم شبګير يمه
ښه دی ستورو شمار او زه

يمه قدرتي ښکلی
چرته نو سنګار او زه

زه عابد پاګل يمه
نه جوړيږو ښار او زه

## غزل

داچې مخامخ نیولی یې ګلاب دی
پرې مئین یمه همدا زما جناب دی

ستا یادونه راسره دي تنها نه یم
پرې لیکلی مې پوره د ژوند کتاب دی

نن د خیال په ترنم کې به ویده شم
زړه کې ته یې او په لاس کې مې رباب دی

زه یې ځکه په غزل کې یادومه
داستا سترګې نه دي دا مې انتخاب دی

لېږ خو بل طرفته لاړ شه دیار غمه
دعابد زړګی خو مخکې نه کباب دی

## غزل

تانـــــه چې جدا وي ســـړی څنګه وي؟
مات چې زړه دچـــا وي سړی څنګه وي؟

لاس کـــــې یې رباب په زړه یې ته اوسې
کـــــــله چې تنها وي سړی څنګه وي؟

تـــوله چې په یاد کې د چـــا تیره کړي
شپه چـــې پرې سبا وي سړی څنګه وي؟

کړې یې وعـــــــــــده د راتلو تا سره
بل تـــه په خـــندا وي سړی څنــکه وي؟

سر چـــــې وي عابــــده په تیارو باندې
ورکه ترې رڼا وي ســــړی څنګه وي؟



## غزل

بـــــــغير لتا زندګی چرته کيــږي
راشـــــــه اشنا زندکي چرته کيــږي

په مـــــــــخبت باندې دونيا ودانه
عشــــــقه بې تا زندګي چرته کيږي

راځه چې يو بـــل ته ورغاړې اوځو
جــدا جـــــدا زنــــــدګی چرته کيږي

چې ستــــــا د سترګو قيمــت نه لرمه
مانــــــــه نودا زنـــدګي چرته کيږي

کله ديدن چې ديــــــــــــار ونکمه
عابــده بيا زنــــــــــدګي چرته کيږي



## غزل

څــه بې ميني بې سنـــګاره زنـــدګي ده
لـــنډه دا ده چې بې يـــاره زنـــــدګي ده

مونـــږه هيـــڅ قيسم نشه نه کـــوو ياره
خو بيا هم ډک له خـومـاره زنــــدګي ده

په دې ښار کې د وحشت خـــويـونه وينم
په دې ښار کې ډک له ډاره زنــــدګي ده

زه کــه ستا په سر په دارشم پـروا نـشته
منصـــور هم کړې تر داره زنــــدګي ده

دې دونيـــا باندې زړه مـــه تـــړه لااليــه
داســـې وګنـــه تر سهاره زنــــدګي ده

مخبت زړه دبـل زړه ســـــــره تـړل دي
او په هغـــــــــې کې ايساره زنـدګـي ده

هيڅ دڑوند په خـــوږو پونه شوم عابده
خـــوار پيدا يمـه او خــــواره زندکي ده

## بيتونه

په ما که هــــر څومره د غم وه د زوال شپــــــه وه
څه مړې پرېړده کنه ستا خو د د ستمال شــــپه وه

زه پکې مړ نه شومه شپه وه پما تيره شــــــوه خو
باور دې وشه يـــاره شپه نه وه د کــــــال شپه وه

## بيتونه

جانان زمونږ کوڅه کې سهار وحتې ځي او راځي
رقــــــــــيب ورسره سم لکه د سپې ځي او راځي

عابد چې کله لاس پرې ښکلولو په نــيت راښکې
بدن بـانـدې يې سم لکه ميـــــــرګي ځي او راځي

## د زړونو لارې

### غزل



ستا تصويران ساتمه
زړه پرې ودان ساتمه

هغه به راشي کنه
ورته ګلان ساتمه

په زړه کې اوس هم تصوير
دهغه ګران ساتمه

خو يو زړګی لرمه
او يو جانان ساتمه

دروازې د نکې پريږده
پلاره اوښان ساتمه

ځمکې ته هم ګورمه
خيال په اسمان ساتمه

يمه پښتون لاليه
زړه د جهان ساتمه

سينه مې تشه نه ده
په کې قران ساتمه

زه عابد اوس هم په زړه
دچا ارمان ساتمه

# د زړونو لارې

په كومه ځمكه چې باران نه كيږي
هلته اغزي كيږي ګلان نه كيږي

چې ته زما شې او زه ستا شم ګلې
په خپل نصيب مې دا ګمان نه كيږي

زما او ستا ترمنځه دغه ديوال
چې د سپرلي او د خزان نه كيږي

ماترې لا سوال د مينې كړى نه وو
راته يې وويل چې قربان نه كيږي

هرچاته ګورمه د ځان په نظر
زما هيڅ كركه له انسان نه كيږي

راشه په غيږه كې مې كلك ونيسه
هسې په خوله باندې په ګران نه كيږي

دومره ګتمه چې بچي ساتمه
ستا د سالو او د پيزوان نه كيږي

بلها موده وشوه خفه يو سره
زما،رقيب او د جانان نه كيږي

رقيب كه هرڅومره پيوند شي لتا
خو شنده ونه كې توتان نه كيږي

زه په عابد عابد په ما مئين دى
بغير له يو بل مو ګوزران نه كيږي

# د زړونو لاړې

## غزل

چې څواني مې له ګړنګه ده پريوتې
زما مينه هم له شړنګه ده پريوتې

هر سړی په زړګي مات دی مات دی
دا دونيا نوره د خونده ده پريوتې

ستا دتلو سره هيڅ هيلې پاتې نه شوې
خوشحالي مې د ټول ژونده ده پريوتې

دغه څوک ده چې پې ته د ځانه ګران يې
په کچکول چې دې ملنګه ده پريوتې

د عابد زړه تر هغې ورځې مات شوی
چې يې شمعه د پالنګه ده پريوتې



## غزل

دا چې دیدن مو په ماښام نه کیږي
دا خو د ښکلو په مونږ پام نه کیږي

ساقي چابي د میکدې راکوه
په زړه مې اور بل دی په جام نه کیږي

رازه چې یو بل ته ورغاړې اوځو
هسې له ورایه په سلام نه کیږي

زه چې عابده ستا په ښکلا کې اوسم
ښکلا په تا به نو الهام نه کیږي

# د زړونو لارې

## غزل

زړه چـــې مې درکړی دی ګلابه راتـه وګوره
ځه کنه موســـکی شه ځه جنابه راتـه وګوره

زړه مې يې دزړه نـه مـې دزړه پوښتنه وکوه
بيا راته موســـکی شـه بې ځوابه راتـه وګوه

اخلمه رحصـــــت له دونيا ځمه رحصتيږمه
ښه راته په زير شه بې حـــسابه راته وګوره

هسي هم دژوند په انديښنو کي پوره ډوب يمه
ګوره تـــه مي ډوب نه کې دريابه راته وګوره

اډيـــــــو غږ دي اورمه د ويډيو پته نه لګي
مـــــخ دي راښکاره که له نقابه راته وګوره

ويــوئـــيل عابده سبا تا سره کويجده مي ده
مستـــــــه غاړه را خانه خرابه راته وګوره

## غزل

ژوند کوومه خو د ژوند احساس مې مړ دی
دا که روغ دی ګوره دغه لاس مې مړ دی

داوبو په شانتې وینه رانه توی شوه
اوس ساده یم رنګینه ګیلاس مې مړ دی

نور له هیڅ چا سره نه کومه مینه
دردیدلی یم د زړه حواس مې مړ دی

زه به څنګه خپل منزل ته ورسیږم
مخکې ځمه خو د تلو اساس مې مړ دی

څه رقیبه اوس مزې کوه ګرځیږه
موده وشوه چې د زړه وسواس مې مړ دی

اوس په مرګ باندې حساب یمه عابده
چې ژوندی اوم پرې هغه الماس مې مړ دی

# غزل



دا ســــــــــــتا وعدې را يـادوم لـګيا يم
درنــه زړه ورو ورو صبــــــروم لګيا يم

ماتـــــــــــــه د مينــي پيغور مه راکوه
تصـوير دې اوس هم ښـــــکلوم لــګيا يم

ژونده له تانه چــــــــــــــرته لرې ځمه
خپـــــل ارمــــانونه ټــــــولوم لګيا يم

ســـــترګې يې پټــــــي کړې راغاړې وته
وئـــــيلي نــــــــور دې هېروم لګيا يم

دا ستـــــــــا ديــــــدن ته بهاني جوړوم
عابـــــــــــــده فکر سنـــــــجوم لګيا يم

# د زړونو لارې

## غزل

دا چې په نه زړه اشارې کوي نو نه دې کوي
که زړه مې درد کوي لمبې کوي نونه دې کوي

ما د ژوندهره لحظه وژني دومره درد دی پکې
که څوک زما دژوند کيسې کوي نونه دې کوي

خبره وتی له باوره ده باور نه کوم
هغه که هر څومره وعدې کوي نو نه دې کوي

دلته ژوند نه کيږي له دې کلي نه لرې ځمه
که څوک زما پسې نارې کوي نو نه دې کوي

چې بيرته راشي نوبيا يو په دوه ګناه کوي دوی
هسې طواف چې د کعبې کوي نو نه دې کوي

دا درد زغمی شمه ما وولی په کانو باندې
که څوک مې ټول قوم ته هېرې کوي نو نه دې کوي

چې کليمه د محمد وايي او خدای هم مني
انسان که هرڅومره سجدې کوي نو نه دې کوي

عابده هيڅ د مخبت له زوره نه دې خبر
که څوک د زړونو معاميلې کوي نو نه دې کوي



## غزل

ربه ستا له قدرتونو نه قربان شم
بعضې وینمه نو بعضو ته حیران شم

چې یې ووینې په ښکلو مئینېږي
هیڅ باور په زړګي نه لرم روان شم

په بل غم وي زه يې هيڅ کيسه کې نه يم
په ما راشي نو بيا هله زه انسان شم

ربه نورې وسوسې مې زړه نه لر که
چې مئین زه په لوستلو د قران شم

چې مې سیورې هم په کاڼو باندې ولي
زبه عابد به وایه ښکه ورته ګران شم

## غزل

درد اخیستی اوم درمان کیسه کې نه اوم
ته مې یاده وې د ځان کیسه کې نه اوم

لیونی رانه جوړ کړی وو ستا مینې
زه د خپل ځیرې ګریوان کیسه کې نه اوم

یار که هر ځومره نارې راپسې وکړې
زه روان اومه روان کیسه کې نه اوم

خوږ نبي پې د جنت وعده راکړې
بیا به څنګه د ایمان کیسه کې نه اوم

ما عابد ته یې د مینې اظهار کړی
که یې رانکړه ګلان کیسه کې نه اوم

# غزل

دا جینۍ څوک ده داسې ړنـــــګه بنکه ځي په لاره
چا ورته ایښي دي ګـــــــلان او چا اغزي په لاره

د جـــــونو وشرمیده ځان سره رو رو یې وئـــــیل
دا راته ایښي دي ګلان کوم لیـــــــــــوني په لاره

له کلـــــــــــي ووتې روانه بې حـــــــــجابه یې
څوک به تکور کړې او څوک به کړې زخــــــمي په

دجـــــــــونو میره وه ګودر ور باندې ښه ښکاریده
څــــــومره قطـــــــار یې ایښي وو بنګړي په لاره

عابـــــده ښـــــــــکلو ته چې ګورم تې الهام اخلمه
ځکه کومــــــــــه اوس لګیا یم شـــــــاعري په لاره



## غزل

دیــــدن ته چې به ستا کله راتلـــــــــم لکه دمار
د خلکو نه به داســـــــــــــــــــې پټیدم لکه د مار

ګودر ته چې به ته کله هـــــــــــــــمزولو سره تلې
زه پولې لانـــــــــــــــــدې غلی به درتلم لکه د مار

دادا نـــه دې خـــــــــــفه اومه خو ګلې ستا لپاره
له خـــوانه به یې ګرد ګرد تاویدم لـــــکه د مار

رقیـــــــبه چې به کله د جـــــــانان خواته ورتلمه
په کـــــــــــټ کې به یې داسې لوغړیدم لکه د مار

چې کـــــــــله به یې ښه په دیدن موړ شومه عابده
له کـــــــــــــور نه به یې داسې راوتم لکه د مار



## غزل

خـــــوښ که د زړه مې يې ګلابـــــــه ته يې
پوی مې د ژونــــــــــــــــد له هره بابه، ته يې

زما يو څو د تنــــــهايی ملګـــــــــــــــــري
خو په هـــــغو کې يو کتـــــــــــابه، ته يې

زه که خــــاموشــــــه يم خامــــــوشه به يم
ولې خــــاموشـــــــه نو دريـــــــابه ،ته يې

يــــــــــو مې د زړه درزا هغه لـــــــــيونۍ
بل مې د فــــــــــــــکر ټال ربـــابه، ته يې

د عابـــــــــد ژوند بانــــــدې باور داسې دی
څنــــــــګ چې په ساه ولاړ خبـــــــابه، ته يې

## غزل



د دې لیدو نه نالیدلې ښه وې
کاشکې ولاړه نه وی تللې ښه وې

ستا جدایې راته پیغور شوه کنه
تینګه مې زړه پورې نیولې ښه وې

دا غمازانې دې په مخ راڅانکې
دا کړې زلفې دې ریبلې ښه وې

که ژوندون لړه هم وفا کړې وی
لکه د ګل به مې ساتلې ښه وې

عابد په حال د لیونو خوشحاله
ته په خندا وی خندیدلې ښه وې

## غزل



داچې درد زغمي زغملو کې تاوان دی
درنه تلمه خو په تللو کې تاوان دی

ډير يادونه مې د ژوند پکې پراته دي
ستا تصوير ته په کتلو کې تاوان وی

څوک چې ميني ته نفرت په نظر ګوري
داسې خلکو ته خندلو کې تاوان دی

مايې هر يو نظر وژني ښه پوهيږم
ديار در ته رسيدلو کې تاوان دی

ای! عابده مخبت د زهرو ګوټ دی
زهرو زړه ته کوزولو کې تاوان دی

## غزل

زه نو کلـــــــــه ستا له دره صبریدی شم
زړه مـــــــې درد  وکي لمبه وکي لوګي شم



د یـــــــــــارانو نه ګوښه ګوښه ګرځیږم
ســـــــــــتا په مینه کې به یاره لیونی شم

هـــــــــــسې هم په مړو حساب یمه لالیه
ځه یو غږ رابــــــاندې وکه چې ژوندي شم

چې تصـــــــــــویر ته دې په پټه پټه ګورم
نو نامـــــــــــه دې په جار کله خیستي شم

نور بـــــــــــه څه له خدایه غواړمه زړګیه
دا ده ډیره چـــــې په خوب کې دې لیدی شم

ســـــــــــتا یادونو په ملا ماته کړم عابده
اوس نو کلـــــه په لار روغه روغه تلی شم

# غزل

ښـــــه نو ته څه وايې چې څنګه زندګي کومه
تـنها تنـــها يمـــه تنـــها يم تـــنهايي کومه

د جـــدايی احـــسان يې دومره په ما بس دی کنه
د تلو نه پـــس يې اوس لګيا يم شاعري کومه

نـــــوربه نو ســتا لپاره څومره سختي وګا لمه
بـــــاران وريـــږي زه لګيا يم مزدوري کومه

ته لګـــــــــه واوره له اسمانه رانازله شولې
زه د صـــــــحرا بوتی باران ته هم زاري کومه

زما فــــــطرته بــيوسی حد ته خو ګورې کنه
مـــــــورکی مې مره ده زه لګيا مسافري کومه

هغه هم وخت وو چې سلګی سلګی راغاړې وته
وئيلې هـــی هی زه به نور څومره ځواني کومه

عابـــــــده تا چې کلی پريښوده نو پوهه شوله
وئيلــــــــې څـــــمه دم دوا په يو سړي کومه

## غزل



اوس مې نشته دی پیسې په موبائل کې
څه بیا وبه کو کیسې په موبائل کې

یار مې نښه کې تصویر راته راکړی
زه یې ګورمه د شپې په موبائل کې

چې انلاین په ویډیو کال ته غړیدلي
څومره ښکلې وې شیبې په موبائل کې

ښکاري اوس دې هم له زوه ویستلی نه یم
چې پوښتنه مې کوې په موبائل کې

مخامخ به ترې په زوره خولګی واخلم
څه فایده لري غوسې په موبائل کې

ای لالیه راشه تولې اوس پوره
تاچې کړې دې وعدې په موبائل کې

هغه دغه ده عابده ورته ګوره
چې کولې یې نخرې په موبائل

# د زړونو لارې

## غزل

ژوند کوو په ژوند کې ارمانونه هم لرو
هیڅ کار کولی نشو او لاسونه هم لرو

نن وژنـــمه سبالــه یې ورځمه جنازې ته
تـــــــردې حده د زړونو تکلیفونه هم لرو

په خوله که درته هیڅ وئیلی نشمه یریږم
لږ وګوره په ســـترګو کې سوالونه هم لرو

زما او ستـــا یوه نښه د یو بل سره نشته
هر څو که مونږ په کورکې صندقونه هم لرو

په دې خاوره کې امن سوله نشته خوعابده
په دې خاوره کې ستا غونتې ګلونه هم لرو

## غزل



ربه هیــــخ کولی نشمه فـــــــقیر یم
په دیوال را زړیدلـــــــــې یو تصویر یم

هر لمانځه په دعاګانو کې دې غواړم
انـــــــــــتظار یمه په تمه د تقدیر یم

د ځیـــــرې نه به لوفر درته ښکاریږم
خو په زړه کې مسلمان یمه زهیر یم

هیـــــخ ګیله د غیر غمازه نه کومه
پـــــیدا شوی له ازله زه پـه ویر یم

بـنـد په بنـــد یمه تړلی غمــــــازانو
په مثــال لکه د اوسپنـــې زنځیر یم

چې تر اوسه مـــــــلایانو پسې ګرځی
زه عابده ستا د هــغه خوب تعبیر یم

## بیتونه

که چرته رانغلې د زهرو ګولۍ خورم درپسې
لالیـــــــه راشه کنه وګوره چې مرم درپسې

که دې کـــــــلونه لارې وې یاره ترمنزله پورې
بیا هم امیـــــــد ساتم توکل په خدای درځم درپسې

بلا موده وشـــــــــــــوه چې ته مې یې په یاد لالیه
بلا موده وشـــــــــــــوه پاګل یمه ښه سم درپسې

وئیلـــــــــــــې زه درته یـادیږمه که هېره دې یم
زما خو زړه چـــــــــــاودلی نور ګوره قسم درپسې

## غزل

د خیال رباب څنګه وي؟
او زړه کباب څنګه وي؟

ته لا وړه یې ښه یې
ستا به شباب څنګه وي؟

چي ځي دیدن ته دیار
لاس کې ګلاب څنګه وي؟

زړه مې مئین دی په تا
نور انتخاب څنګه وي؟

ښه چي روا ده مینه
بیا نو غذاب څنګه وي؟

زه خو ټوپک پیژنم
یاره کتاب څنګه وي؟

ربه د هغې دونیا
حساب کتاب څنګه وي؟

زه ورکتی نشمه
نور نو افتاب څنګه وي؟

عابده ته ښکلی یې
ستا به جناب څنګه وي؟

## غزل

که ښایسته یم که بدرنک یمه لالیه
خو بیا هم دا ستا ملنک یمه لالیه

زه منمه چې ته ونه د چینار یې
خو زه هم په ونه دنک یمه لالیه

دا دستا د غلچکو سترګو اثر دی
که لویدلی له ګرنک یمه لالیه

ما عابد خو زوندون تا له تیرولو
چې ته نه یې په ژوند تنک یمه لالیه



## غزل

په شپــــــه کې ته یې په سبا کې ته یې
زمــــــا د ژوند په هره سا کې ته یې

خومـــــــــره خیالي خیالي روانه یې ته
څـــــــومره له نازه په هوا کې ته یې

دجانان غــــــــمه درنه چرته لاړ شم
په سمه دشـــــــته او صحرا کې ته یې

چرته روانــــــــه یې او چرته به ځې
زما په فــــــــکر او سودا کې ته یې

عابـــــــــده ولې به ترې نه ځاریږم
چې مې د مــــور هرې دعا کې ته یې

## غزل



کـــــه پـــــه زور ای زورروره څه کیدی شوی
سمـــــــــندر به هم په پورته لوري تلی شوی

ځـــــــــــان بی ستا په مخبت کې نه سیزلو
که بـــــــــلال دې له بشر منې کیدی شوی

هیـــــــــخ ارمان به مې په زړه نه وو حبیبه
که په خوب کې مې هم ستا دیدار کوی شوی

ړونـــــــــد به څه وایي خو دابه ووایي خدایه
کاشـــــــــکې یو ځلې مې دا دونیا لیدی شوی

ددونـــــــــــــیا واړه شرطونه یې منلو
که مـــجنون لیـــــــلا ته چرته رسیدی شوی

مابه ځـــــــان وی زولـــــــــنو باندې تړلی
زه عابد که ســــــــا له دره صبریدی شوی

## غزل

مـــــــــه وایه هغه بدرنګه شوې ده
وایـــــــــه ائـــینه بـدرنګه شویده

اوس چې زه ژوندن پکــې کوي نه شم
اوس دا زمــــــــانه بـدرنګه شویده

اوس مي ستا تصویر ذهن ته نه راځي
اوس مـــې خافــظه بـــدرنګه شویده

بــــــــس چې دا یوه جني ترې لاړله
نوره نو کامـــــــــــه بدرنکه شویده

څــــــــه یې په نه زړه عابده ووئیل
ولـــــــــې دې څیره بدرنګه شویده



## غزل

په ما مـــــه کوه ګوزار د مړاوو سترګو
زما نـــــــه لګیږي یار د مړاوو سترګو

چې زخمونه مې ترڅو ښه شوي نه وي
بـــــــیا به ونکړم دیدار د مړاوو سترګو

هـــــــېرول یې څه اسان نه دي ملګرو
که چـــــا ولیده خومار د مړاوو سترګو

یو ځــــل نه په څو څو ځله یې ویشتلی
عابـــــد ځکه کی انکار د مړاوو سترګو

## غزل



په اوجـــــود کې مې ساه بــنده بنده کيږي
ربه سختـه مې ګـــــــيله له ژونده کيږي

دايې نــــــــــبنه د پخه بې اتفاقي ده
په يوه کور کې چې دوه ځاى ژرنده کيږي

يار د ستــــــــرګو په ګولو يمه ويشتلى
اوس چې زخـــــــم ټولومه کنده کيږي

چا خـــــــوږو کې راته زهر دي راکړي
ځکه کــــــرکه مې پخه له قنده کيږي

دلتــــــه زور باندې څه نه کيږي عابده
دلته مـــــــينه هم پوره له خونده کيږي

## غزل

غرونه دشتې بيـــــابان درپسې ګورم
د سپرلي نوي ګـــــلان درپسې ګورم

ته دننه مې پـــــــه زړه کې يې لاليه
زه خو هسې دا جهـــــان درپسې ګورم

پښـــــتونخوا کې مې پيدا نکړې دلبره
اوس به څـــمه نو هندوان درپسې ګورم

زه به څنـــــګه وايه نه ليونی کيږم
داچې ډلې رقـــــيبان درپسې ګورم

لکه ســـــيوری تاسره يم پيوند شوی
ته چې چرته ځې نو ځان درپسې ګورم

بارانـــــه کې رانه تللی يې عابده
اوس دې هم کوم ارمان درپسې ګورم

## غزل

له خپـــل درد ځيني په عذاب يم کليوالي
ستا د تلــــــو نه پس خراب يم کليوال

په او جود بـــاندې مې بار دي ستا غمونه
په مثــــــــــــال لکه تناب يم کليوالې

لړ مې جيک که ما په دواړه مخه ښکل که
لار کـــــــــې پروت يمه ګلاب يم کليوالې

درقيـــــــــــب لپاره دغه چلنج بس دی
چې له زړه دي انتـــــــخاب يم کليوالې

ستــــــــا عابد هغسې نه يم چې به اومه
اوس په مــــــــړو کې حساب يم کليوالې

# غزل

ستـــــا يـــــادونه راسره دي او د شکو بيابان دی
هم د تندې نه مړ کيږم هم د اوښکو سيند روان دی

د چا ماتي ماتي هيـــلې په خپل مات مات زړه منمه
د غم څاڅکي راوريږي او په شين اسمان باران دی

چې ماته مې روژه نـــــــــــشي په دې باندې يريږم
يو وړکی مې ښکل کړی خبر نه اوم چې رمضان دی

زه چـــــــــــــې د چا ياد کې لکه ونه سوزيدمه
زما ګټه د هــــــغه وه او تاوان مې په خپل ځان دی

چې پښتـــون يم پښتو وايم په پښتو باندې قربان يم
راته کـــــــړی مې په غوږ کې يو پښتون ملا اذان

په ژونــــــــد کې مې عابده يو سړی وو هزار کړی
تر اوســـــه لا خفه يمه تر اوسه مې زړه وران دی

## غزل

اوس تـــللی مې د ژوند ښخه سکون دی چې ته نه یې
اوس در په در په هر ځای کې پښتون دی چې ته نه یې

اوس نـــه یم د پـــــخوا په څــــــیر باور وکه لالیه
را وستی مې په ځان کې اوس بـدلون دی چې ته نه یې

اوس هـــــر چـــا سـره اوښکې تویوم له ډیره درده
پیرزو مې په چــــا کله اوس بلـتون دی چې ته نه یې

اوس هـــــــم راته خیـــــــالونو کې راځې زما جنابه
اوس هم مې سر ایښودی په زنـګون دی چې ته نه یې

چې ستــــا ژوندون به ښنګه وي او ښنکه به تیریږي
عابــــــد خو دې ګډ شوی په جنون دی چې ته نه یې

## غزل

ارمان پسي د خپلو ارمانونو جنازې وړم
يو څوک دی چې تقدير پسي دهغې فيصلې وړم

د خپلو ارمانونو جولی ډکه ګرځومه
دا هيلې هيلې ژوند به مې رسا تر هديرې وړم

ای ربه زندګي دې راته دومره خوږه کړې
هغې دونيا ته ټولې به له دې دونيا کيسې وړم

دا ستا د بلتون درد مې لا اوس هم په زړه کې شته دی
چې کله بيخي زيات شي نو خپل ځان تر ميکدې وړم

عابده دعاګانې به ترهغې درته کومه
ترکمې چې تندی او پزه دواړه ترسجدې وړم

## غزل

دوی پښتـــــــــانه د لر او بر وژني خبره څه ده
مونــــــــږ د یووالي په تغر وژني خبره څه ده

ای زمـــــا دوســـــت،زما پیوند، زما ګاونډ وطنه
ما سکه ورور دا ستا په سر وژني حبره څه ده

نه مو له زړه بـاسي او نه ورپکې ځای راکوي
ښکـــــلي مو تل په دا هــنر وژني خبره څه ده

د ژونـــــــد له ډیرو ډیرو سختو نه وتلي عابد
صــــــــرف هغه په یو نظر وژني خبره څه ده

بیت

که مونږ وغواړو بیاهم یو کیدی نشو
زه او یار یو لکه دوه موازي کرښې

## غزل

د چا یاد کې زندګـــــــــــي اسانه نه ده
تنها ګرځم تـــــــــــنهايي اسانه نه ده

واړه ښکلي د دونـــــيا که شي راجمعه
ستا تصویر سره سیـــــالي اسانه نه ده

دا چې زه د چا د غــــــــمه لیونی یم
رانه هیره شي بیخي اســـــــانه نه ده

مطالعه ، فکر او خیال درســـره نه وي
بې له ذوقه شاعري اســـــــانه نه ده

د زمري دوستي زمریو ســـــره کیږي
تیپوس باز سره دوستـــــي اسانه نه ده

دا عابد وو چې له زړه درته تسلیم وو
په نور زړونو پاچـــاهي اسانه نه ده

## غزل



هیــــڅ مې خیال خاطر کې نه وه هاﺍﺍ جنابه
زنــــــــدګي مـې چې کړه تولـه پرې خرابه

چې نامـــــــــــه پکې د مینـې ذکر شوې
هغه پــــــــــانې مې شـکولي لـه کتابه

جفـــــــــــاګانې دې یو یو حــسابومه
مـــــــــکمل یم ستــړی شوی له حسابه

زه خـــو هســـې د دونیا ښکلو ته ګورم
زړه خـــــــو تا وړی له ما خانه خرابه

چې عابـــــــد به نیمه شپه کې غږولې
اوس دې هغه شانتـــې خوند نشته ربابه

# د زړونو لارې

## بیتونه



راشـــــــه وګوره لالی دې په څه حال دی
نن ســـــــــبا روان په لوري د زاوال دی

که دې مات شو منګي بل به درته جوړکم
جـــــنی ستا لالی خو هسې هم کولال دی

که یې ګتـــــــــې که یې بائلې پروا نشته
ته بــــــازي کوه عابد دې مینوال دی

## بیتونه

دا ستا په مخ کې څنـــــــګه تجلات ځي او راځي
اکثر مې زړه کې غـــســــــې خیالات ځي او راځي

ای خانه زمــــــــونږ کور کې د غـــمو درک نشته
دا ستـــــاسې کـــورته څنګه میوجات ځي او راځي

په یـــــو کـــــــالي مې تاسره اوبه څښلې لالیه
بدن کې مې اوس وینې پرځای شهات ځي او راځي

دا چــــا ویــلې په مینه کې خونـدونه او مزې دي
عابد چې ځي دیدن ته په زړه مـــات ځي او راځي

## غزل

پښنې يې سستې شوې مزل نه کوي ياره
داياران خو به مې چل نه کوي ياره

ښنه مې وينې رانه زړه تښتی لګيا يې
داسې غلا خو چرته غل نه کوي ياره

د دونيا زندګي هر چاته خوږه ده
خو خبرې څوک د تل نه کوي ياره

ښه ډاډه دې راته وګوري لاليه
هيڅ پروا دې د عجل نه کوي ياره

ستا عابد دا ستا يادونو داسې که چې
ژوند کوي خو مکمل نه کوي ياره



## بيتونه

د نظر غشي دې سمبال وساته
لېږ خو زمونږ د زړونو خيال وساته

د خندا شنه وه وئلې ما هېره که
خو د لاس نښه مې رومال وساته

## بيتونه

درد مې په زړګي پاتې درمان مې په زړګي پاتې
هغسې ميرات يمه جانان مې په زړګي پاتې

ځان مې يې د ځان نه څوک د ځان پوښتنه نه کوي
يو ځان له ما هېر دې خو بل ځان مې په زړګي پاتې

هسې خوی اظهار د مخبت راته پرون کړی
لاس مې تش راړی دی ګلان مې په زړګي پاتې

## غزل



تا چـــــې د مینې سمندر کې لاهو کړی یمه
اوس لـــــتوه مې مه جــانانه اوبو وړی یمه

په اند یښنو کــې چې یـــاران زمانه لرې تښتي
په ځان مې شک دی یاخو مار یمه یا پېری یمه

پورته کـــــېدی نشمه ساه مې بنده بنده کېږي
تاســـــې ما وګوری ژوندی یمه که مړی یمه

له چانه څـــه پوښتې خو زه به درته ووایمه
زه بې اسرې پاتې یتــــــیم اوبو راوړی یمه

باور مې نه شي که مې وشي بې لتا زندګي
زه ستا عابـــد یمه زه ستا د بدن غړی یمه

## غزل

د پــــــــــسرلي يخه هوا ده باراني موسم دی
زما د ســـتا تلو ته سودا ده باراني موسم دی

غاړه يې راکـــــــړه راته وئي کتل وئې خندل
وئيلي نوره خـــوښه ستا ده باراني موسم دی

ډيوه يـــې مړه ده او مئين د چا يادونه ليکي
اسمان کي لړه شان رڼا ده باراني موسم دی

اوس چي د يار ديدن ته څمه ښه داړه به څمه
مينه مو هســـي هم رسوا ده باراني موسم دی

عابــــــده ستا په مخبت باندې قانع نه يمه
ګـــيني زما د زړه رضا ده باراني موسم دی

## بیتونه

ستا له ښاره ماته ژوند بیابان ښه دی
نررقیب وي تر بې ننګه جانان ښه دی

راشه مانه دې د ځان پوښتنه وکه
دا خو هر څوک وایي ځان دی او ځان ښه دی

ربه ډیرو رخمتونو دې قانع یم
خو مئینو ته د اوړي باران ښه دی

ننګ ناموس چې پکې وبایلې عابده
له دې ګټې نه اکثر دې تاوان ښه دی



## بيتونه

هغـــــــې چې هروختې اغزي ورکړي
عابــــــد نادان ترې نه اوس ګل غواړي

زه خـــــــو غريب يمه په ما څه کوي
خـــود به دعا کې خداى نه بل غواوي

## بيتونه

زړه تــــــــه خو مې زړه تسلي ورکړله
يارته مې په څه تـــــــــــسلي ور کړله

ما ورتـــــــــــه وئيل په تا مئين يمه
اوس مـــــــې ورته بڼه تسلی ورکړله



بیتونه

ما ورته راوړې له بازاره لوپټه
هغه په خوب کې هم وینی اوس یاره لوپټه

موده وشوه چې زه یې دلیدلو په ارمان یم
ای لرې که دمخ نه دې دواره لوپټه

دانه دانه اوربل یې لکه پاڼه رپیدو
سیلۍ چې ورنه وړې وه په لاره لوپټه

بیتونه

چې ستا خنجرخنجر باڼه مې په زړګي ولګي
باور دې وشه یاره مابانديې میرګي ولګي

زه چې دا ستا خواته درځمه لړاوترغوندې شم
لکه سرۍ چې ګل راشکۍ او په اغزي ولګي



## غزل

دا دونیــــا که چرته هم په بله واوړي
خدای که مینه مې صنم په بله واوړي

راتـــــه داسې دوآ ولیـــــکه صاحبه
چې له زړه نه مـــــې دا غم په بله واوړي

ناســت مجلس کې د یارانو ته مې یاد شې
خـــــــیال او فکر مې قسم په بله واوړي

ځینـــــــــې سترګې په کلونو نه بدلیږي
ځـــــینې سترګې وي یو دم په بله واوړي

وئیلې ســــــــتا نامه چې لیکه عابــده
وئیلې خــــط مې د قـــــلم په بله واوړي

## غزل

د کـــــــلي په کـــــــــوڅو کې ناکراره ګرځيدم
ديـــــــــــدن په تمه تمه به دې ياره ګرځـــــــــيدم

خـــــــــــبر چې د راتلو به ياره ستا راباندې وشو
په هغه شپــــــــــــه به تولـه شپه تر سهاره ګرځيدم

اى کلـــــــه يې بغـــــــــــير له مانه بل چاته کتلې
اکثر به يې زه ستـــــــــــــــرګو ته هنداره ګرځيدم

ته زما قسمت کې نه وې او زه ستا قسمت کې نه اوم
زه هســــــــــــــــي ليونى به ستا لپاره ګرځيدم

دا ستـــــــا د مخـــــــــــبت اثر څه داسي وو عابده
بغيــــــــــــــــر زه د نشي به هم خوماره ګرځيدم



## بیتونه

وایم چې عذاب به په ما نه راځي
ستا د عشق حساب به په ما نه راځي

تا چې په غمزه سترګو راوکتل
څنګه اضطراب به په ما نه راځي

ته چې دې په خپل حسن مغروره یې
ووایه شباب به په ما نه راځي

## بیتونه

راته ایښی یې ګلاب په کتابونو کې
ګورمه کتاب په کتابونو کې

زه د محبت کلیمه پیژنم
لوستي مې جناب په کتابونو کې

نن مې ستا غزل عابده ولوسته
که مې انتخاب په کتابونو کې

## بیتونه

نیمه شپه ده خاموشي ده او کراره به ویده وي
ستوري نه وایی حالونه او هنداره په ویده وي

نن یې بیا کړی عابده ستا دیدن په مابنامي دی
تصور کې به یې ته یې او خوماره به ویده وي

## غزل

چې داســـــــې مې له زړه نه یې چاپیره لیونۍ
نوووایه چـــــــــې څنګه دې کم هېره لیونۍ

ته هله به زمـــــــــا د زړه د حال پوښتنه وکې
په ما بانــــــــدې چې دا ځواني شي تیره لیونۍ

ای زه له پیــــــښوره تر نـــنګرهاره پورې ځمه
ښـــــه توت غواړې که راوړم درته بیـــره لیونۍ

په ژوند باندې باور څه دی کیدي شي بیا رانشم
را ومــــې ګوره ستــــــــرګو ته نن ډیره لیونۍ

د چـــــا د انتـــــظار شمـــــعه چې ټول عمر بلیږي
عابــــد هم په هغـــوخلـــکو کې شمـــــیره لیونۍ

## غزل



یاره هسي دې خـــــــيالات راسره ويشي
زړه مي مات دی ګوره مات راسره ويشي

ای ریباره موده پــــــــــس يمه راغلی
يار ته ووايه که شـــهـــات راسره ويشي

په ژونـــــــــدون باندې باور نشته لاليه
که نـــــــــــيته د ملاقات راسره ويشي

چې دې مـــــــــخ له مانه واړوه پاګلي
بيا نو څنـــــــګه ميوجات راسره ويشي

وئيــــــــلي ژوند په لټا زار کمه عابده
دا زړګی که دې مـــيرات راسره ويشي

# د زړونو لارې


راته ایښی یې ګلاب په کتابونوکې
ګورمه کتاب په کتابونو کې
نن مې ستا غزل عابده ولوسته
که مې انتخاب په کتابونو کې


کله چې ما وګوري حیرانه شي
ځان سره څه ووایي روانه شي
هسې مې په زړه بنه لیدلې ده
کاشکې دا هندوه مسلمانه شي
ځمکه کې خو ستا لایقه نه وینم
چرته که راکوزه له اسمانه شي

# د زړونو لارې

## تاته ډالۍ



دا دونیا کــــــه چرته هم په بله واوړي
خــــــدای که مینه مې صنم په بله واوړي

راته داســــــــې دوا ولــــیکه صــــــــاحبه
چــــې د زړه نه مې دا غم په بله واوړي

ناست مجلس کې د یارانو ته مې یاد شې
خیــــــال او فکــــر مې قسم په بله واوړي

ځینــــــې ستــــــــرګې په کلونو نه بدلیږي
ځیني ستــــرګې وي یو دم په بله واوړي

وئلــــې ستـــــا نـــــامه چې لیکــمه عابده
وئــــلي خـــط مــې د قلــم په بله واوړي



# د زړونو لارې



## ليکوال لنډه پېژندنه

ښاغلی مطيع الله((عابد))٠
((۱۳۸۰)) لمريز کال کې د هيواده ليرې د هجرت پرمهال د پښتونخوا د ملګنډ درګئ کمپ کې دې نړۍ ته سترګې غړولې
ښاغلی مطيع الله (عابد) د حاجي ميرزمان خان زوی د ننګرهار ولايت د کامې ولسوالۍ د بازيدخيلو د قريه اوسيدونکی
دی.نوموړی د مهاجرت څخه راستون شو لومړنی زده کړې يې د بازيدخيلو عالي ليسه کې تر نهم ټولګې پورې ترسره
کړې او خپله د ولس کلنه دوره يې د سيدسرور قادري عالي ليسه کې بشپړه کړه.د ښونځي تر بشپړيدو وروسته د
ننګرهار عالي دارالمعلمين کې د ساينس په څانګه کې شامل شوو.خو دا چې د شعر او شاعرۍ سره يې بې کچې مينه
درلوده۱۳۹۸ لمريز کال په کانکور ازموينه کې د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبياتو پوهنځي ته بريالی شو.درې کاله يې
پوهنځی لوستی وو خو په وطن کې نا امني،کرونا خپريدل او د نظام بدلون او داسې نور لاملونه وو چې په هيواد کې د
زده کوونکو پرمخ د پوهنتون دروازې وتړل شوې.
خو دا چې عابد صيب د وخت ضايع کول نه غوښتل نو د هدايه انستيتوت کې يې د کمپيوټرليب او انګلسي ژبې کورسونه
تعقيب کړل او ترڅنګ يې د شعراو شاعرۍ او ادبي مجالسو لمن ونيوه او ځان يې تر منزله ورسوه٠
د ښاغلی عابد صيب دا لومړی اثر دی د نوموړي په لسګونه شعرونه په رسنيو او ادبي مجالسو کې ويل کړي او که
همداسې ځېلې هسې جاري وساتي نو لرې نه ده چې د شعر او ادب په اسمان به يو ځلانده ستوری شي.
په ژوره ادبي مينه
محمدآصف ((خوشبين))